# سول لیګل ایډ

# د غوښتونکي لپاره معلومات

### د سِول لیګل ایډ او مشورې او مرستې تشریح کول

***دا د وکیل لخوا هر هغه چا ته ورکول کیږي چې د مدني قضیې لپاره د قانوني مرستې غوښتنه کوي***

وروستی ځل تازه کړل شوی په *19* مارچ*2025*

**له موږ سره تماس نیول**

ویب پاڼه - www.slab.org.uk

زموږ ویب پاڼه زموږ د خدماتو معیارونو توضیحات هم لري.

ټلیفون - **0131 226 7061**

دا زموږ عمومي شمیره ده. د Contact Scotland له لارې د زنګ هرکلی کېږي. بریښنالیک - general@slab.org.uk

موږ لیګل ایډ یعنی قانوني مرسته مستقیم **نه ورکوو**. دا د وکیلانو لخوا ترسره کیږي. موږ د قانوني مرستې سیستم اداره کوو.

**د سِول لیګل ایډ دفترونه**

تاسو کولای شئ په سِول لیګل ایډ دفترونو کې له ګمارل شوي یوه وکیل څخه د ځینو ستونزو په اړه مرسته ترلاسه کړئ.

دا دفترونه د دوی په سیمه کې فقط د هغو خلکو سره مرسته کولی شي چې د قانوني مرستې لپاره وړ دي مګر د قانوني مرستې یا د وکیل خدماتو موندلو کې ستونزې لري.

ویب پاڼه www.clao.org.uk

**ابرډین:** 01224 402330, aberdeen@clao.org.uk, 353 Union Street, Aberdeen, AB11 6BT

**اډنبرا:** 0131 240 1960, edinburgh@clao.org.uk, 4th Floor, Thistle House, 91 Haymarket Terrace, Edinburgh, EH12 5HE

هایلینډ اینډ ایلنډز: 01463 641 770, inverness@clao.org.uk, 2 Castle Wynd, Inverness, IV2 3EB

ارګیل اینډ بوټ: 01463 641 770, oban@clao.org.uk, Argyll and Bute Council 4AW Offices, Municipal Buildings, Oban, PA34

**نور ګټور تماسونه**

رايګانه مشوره ترلاسه کېدلای شي له داسي سازمانونو څخه لکه سټيزن اډوايس سکاټلنډ (www.cas.org.uk)، مني اډوايس سنټرز (www.moneyadvicescotland.org.uk) او شيلټر (کوم چې د کور ستونزې هواروي، www.scotland.shelter.org.uk).

## محتویات

**1 سِول لیګل ایډ اسسټنس څه شی دی؟......................................................... 6**

**2 زه څنګه یو وکیل پیدا کړم چې راجستر شوی وي چې ماته مدني حقوقي مشوره راکړ... 7**

**3 مدني مشوره او مرسته......................................................... 8**

زه څنګه د مشورې او مرستې لپاره په مالي توګه وړ وګرځم؟................................... 8

کله چې تاسو د مشورې او مرستې لپاره وکیل سره ګورئ نو څه باید وکړئ...................... 8

که ما ته مشوره او مرسته رد شي نو څه به کېږي؟............................................... 10

لګل ایډ به څه څه تر پوښښ لاندې راولي؟............................................... 10

زه څنګه د قانوني مرستې لپاره وړ وګرځم؟................................................. 10

زه باید د مالي وړتیا په اړه کومې فورمې ډکې کړم؟........................................ 11

**که زه اړتیا لرم چې زما کار په بېړنۍ توګه ترسره شي نو بیا؟............................... 12**

ایا زما په قضیه کې مخالف لوری به پوه شي چې ما د لیګل ایډل لپاره غوښتنه ........ 12

که زما لیګل ایډ رد شي نو څه به کېږي؟........................................... 13

که ما ته لیګل ایډ راکول رد شي، ایا زه یې بیا غوښتنه کولای شم؟............. 13

ایا سِول لیګل ایډ رایګان دی؟................................. 14

که تاسو قضیه وبایلي..................................... 15

ونډې ...................................... 18

**هغه ملکیت چې تاسو یې لرئ یا یې ګټئ او "بېرته ګورت ته کول"................ 14**

زه باید د خپل سِول لیګل ایډ قضیه څنګه وچلوم؟....... 18

که زه تاسو ته د بدلونونو په اړه ونه وایم نو څه به پېښ شي؟.............. 21

که زما شرایط د سِول لیګل ایډ مالي فورمه ډکولو یا ستاسو د لیګل آیډر راکولو وروسته بدل شي نو څه به پېښ شي؟......... 21

تر څومره وخت پورې زه باید تاسو ته د دې بدلونونو په اړه خبر درکړم؟........ 22

د هغو توکو ځینې بېلګې چې موږ غوړو په اړه یې خبر شو:............... 23

کله چې زه تاسو ته د بدلونونو په اړه ووایم نو څه به کېږي؟............ 24

**8 ایا زه وکیل بدلولی شم؟................. 24**

**9 ایا SLAB لیګل اېډ بیرته رڅخه اخیستلی شي؟............ 24**

تاسو چې زما وکیل ته څومره تادیه کوئ ایا په هغه کښې زه څه ویلای شم؟........ 26

**11 زه له سکاټیش لیګل اېډ بورډ څخه څه تمه کولی شم؟....... 26**

**12** زه د خپل وکیل څخه څه تمه کولی شم؟............ 27

که زه له تاسو یا د خپل وکیل له چلند څخه ناخوښه یم نو بیا؟...... 28

زه باید له دغه لیفلټ سره څه وکړم؟............... 28

# 1. سِول لیګل اسسټنس څه شی دی؟

سِول لیګل اسسټنټ یعنی مدني حقوقي مرسته له خلکو سره کومک کوي چې قانوني مشوره ترلاسه کړي او له وکیل څخه مرسته ترلاسه کړي چې خپله مدني قضیه په محکمه کې وړاندې کړي. **دا ممکن رایګان وي یا تاسو ممکن د دې لپاره یو څه تادیه وکړئ.**

د مدني قضیو بېلګې:

- طلاق او نورې داسې مسلې چې کورنۍ او ماشومان اغیزمنوي.
- له ټکر وروسته یا د طبي بې پرواهۍ له لاسه د ټپونو لپاره د خسارې ترلاسه کولو هڅه کول.
- د کور مسلې لکه د کرایې یا مارګېج بقایا، ترمیم او ایستل.
- پور او د هوساینې حقونه.
- په کډوالۍ، تابعیت او پناه غوښتنې پورې قضیې.

د کومک دوه ډولونه شته:

**مشوره او مرسته**

دا د سکاټلینډ قانون په هره قضیه کې د وکیل څخه د مشورې لپاره پیسې ورکولو کې مرسته کوي، دا که مدني، جرمي یا د ماشومانو هغه وي – د بېلګې په توګه، محکمې ته له تګ پرته ستاسو لپاره د شخړې حل کولو هڅه کول. همدارنګه تاسو ته د هغې موضوع په اړه مشوره درکوي چې تاسو راپورته کړې وي، ستاسو وکیل کولی شي چې:

- تاسو ته مشوره درکړي چې ایا تاسو یوه داسې قانوني قضیه لرئ چې وړاندې یوسئ.
- هڅه وکړي چې له مخالف لوري سره د هغې د حل لپاره خبرې اترې وکړي.
- تاسو ته مشوره درکړي چې ایا د لیګل ایډ لپاره غوښتنه وکړئ چې خپله قضیه محکمې ته یوسې.
- ستاسو لپاره لیکونه ولیکي یا راپورونه ترلاسه کړي.

**سِول لیګل اېډ**

دغه لیفلټ یعني کتابچه فقط له مدني مسلو سره کار لري. سِول لیګل اېډ یعني مدني حقوقي مرسته ستاسو د وکیل لپاره په محکمه کې د کار ترسره کولو لپاره پیسې ورکولو کې مرسته کوي. دا د چمتووالي کار، او همدارنګه د استماع پوښښ کوي او کولی شي د اړتیا په صورت کې د مدافع وکیلانو او متخصصینو لپاره تمویل چمتو کړي.

**زه کوم ډول سِول لیګل اېډ ته اړتیا لرم؟**

ځینې خلک فقط مشورې او کومک ته اړتیا لري، نور فقط لیګل اېډ ته اړتیا لري، او ځینې یې دواړو ته اړتیا لري. ډېری خلک قانوني پروسه له مشورې او کومک سره پیل کړي او بیا لیګل اېډ ته ورځي.

د جنایي لیګل اېډ یا د ماشومانو لیګل اېډ په اړه د معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ [www.slab.org.uk](http://www.slab.org.uk) ته لاړ شئ.

که تاسو د مشورې او مرستې لپاره وړ نه یاست، تاسو ممکن لاهم د لیګل اېډ لپاره وړ یاست، او برعکس، ځکه چې کوم شیان چې تاسو د دې دوو شیانو لپاره وړ ګرځوي، هغه توپیر سره لري. د دې په اړه له خپل وکیل څخه پوښتنه وکړئ.

## 2 زه څرنګه یو رجسټر شوی وکیل پیدا کړم چې ما ته قانوني مشوره راکړي

تاسو باید د هغه وکیل له لارې د لیګل اېډ غوښتنه وکړئ چې زموږ سره راجستر شوی وي. دا ممکن یو داسې وکیل وي چې په شخصي پریکټس، د قانون مرکز یا کومې بلې مشورتي ادارې کې کار کوي، یا زموږ په سِول لیګل اسسټنس دفترونو کې کار کوي.

د وکیل موندلو لپاره:

- Visit www.slab.org.uk ته مراجعه وکړئ او سولیسټر فاینډر وکاروئ.
- د تلیفون کتاب وګورئ یا د خپل سټیزن اډوایس بیورو له دفتر سره تماس ونیسئ.

د SLAB د سِول لیګل اسسټنس دفترونو د تماس توضیحاتو لپاره، مهرباني وکړئ د پوښ دننه مخ وګورئ.

# 3 مدني مشوره او کومک

## زه به د مشورې او کومک لپاره څرنګه ور شم؟

دا به ستاسو وکیل تاسو ته ووايي چې ایا تاسو ور یاست که نه. عموما، تاسو به ور بلل کیږئ که:

- ستاسو سپما او هر هغه ارزښتناک شی چې تاسو يې لرئ (پرته له هغه کور چې تاسو پکې ژوند کوئ) تر یوې ټاکلې اندازې کم ارزښت لري.
- تاسو ځینه بېنفیټونه اخلئ.
- ستاسو د اونۍ مصرف کیدونکی عاید (وروسته له دې چې تاسو ځینې بیلونه او الاونسونه تادیه کړئ) تر یوې ټاکلې اندازې کم وي.

دا ټاکل شوې اندازې او بېنفیټونه هر کال بدلیږي. د وروستي ارقامو او آنلاین کیلکولیټر لپاره مهرباني وکړئ www.slab.org.uk وګورئ

د مشورې او مرستې لپاره، تاسو به له سرمايې (خپلې سپما او ارزښتناکو توکو) څخه د ونډې تادیه کولو ته اړتیا ونلرئ، مګر تاسو ممکن له عاید څخه بیا هم یوه تادیه وکړئ، خو پدې پورې اړه لري چې تاسو څومره عاید ترلاسه کوئ.

تاسو به اړتیا ولرئ چې وښایئ چې تاسو ته له بله کومه ځایه مرسته نه راځي، لکه ټریډ یونین، د انشورنس شرکت یا مسلکي اداري څخه.

## کله چې تاسو د مشورې او مرستې لپاره له وکیل سره ګورئ نو څه باید وکړئ

دا مهمه ده چې تاسو خپل وکیل ته د خپل مالي وضعیت په اړه سم معلومات ورکړئ: ستاسو عاید، سپما او پر تاسو تکیه کوونکي (ماشومان یا نور هغه خلک چې تاسو کومک ورسره

کوئ). تاسو ته پکار ده چې:

- خپل وروستنی بانک سټیټمنټ (سټیټمنټونه) چې ستاسو د عاید رسید او هر ډول سرمایه یا سپما څرګندوي.
- وروستني پې سلیپونه، یا اکاونټونه که تاسو سېلف امپلایډ یاست.
- له پخواني کارمند څخه د پېشن پیمنټ خبرتیا یا ستاسو د پېنشن یا بېنفیټ کتاب.
- د اوسني بېنفیټ ایوارډ لیکونه یا خبرتیاوې.
- د ټولو سپما یا اکاونټونو توضیحات - بانک / بیلډینګ سوسایټي / پوسټ آفیس سټیټمنټ یا پاس بوک، او نور.

که تاسو دا شواهد په پیل کې وړاندې نه کړئ، نو ستاسو غوښتنلیک ممکن وځنډول شي.

ستاسو وکیل فقط هغه وخت ستاسو لپاره کار پیل کولی شي کله چیرې دوی قانع وي چې هغه معلومات چې تاسو د خپل مالي شرایطو په اړه ورکړي دي سم دي.

ستاسو وکیل یا SLAB ممکن نورو خلکو ته لکه ستاسو استخداموونکی، بانک یا د دولتي بینفیټونو دفترونو ته ولیکي چې هغه معلومات وګوري چې تاسو چمتو کړي دي. که تاسو زموږ له پوښتنو سره مرسته ونکړئ نو ستاسو وکیل به ستاسو لپاره کار ودروي او تاسو به موږ ته هغه څه بیرته ورکړئ چې موږ ستاسو د قضیې لپاره تادیه کړې ده.

تاسو باید موږ ته ووایاست که چیرې کوم اکاونټ یا ملکیت ستاسو په نوم وي، حتی که تاسو فکر کوئ چې دا واقعیا په بل چا پورې اړه لري لکه ستاسو د کورنۍ یا بزنس. موږ ممکن دا په پام کې ونه نیسو، مګر که تاسو موږ ته د دې په اړه ونه وایاست او موږ وروسته خبر شو نو کېدلای شي تاوس خپل لیګل ایډ له لاسه ورکړئ، د خپلې قضیې لپاره پیسې پخپله تادیه کړئ او له جنایي اجرااتو سره مخ شئ.

که تاسو واده کړی وي یا له پارټنر یعني د زوند ملګرې سره ژوند کوئ، نو ستاسو وکیل به د هغوی د عاید او سپما په اړه هم ورته معلوماتو ته اړتیا ولري، پرته لدې چې:

- تاسو له یوه بله جلا شوي یاست.
- هغه دا کس وي چې تاسو ورسره قانوني لانجه لرئ.

- دا غیر عادلانه یا ډېر ستونزمن وي چې دا کار وکړئ (فقې د مدني مشورې او مرستې لپاره غوښتنلیکونو باندې پلي کیږي).

### که چیرې ما ته مشوره او مرسته راکول رد شي نو څه به کیږي؟

که تاسو د مشورې او مرستې لپاره وړ نه یاست، تاسو ممکن بیا هم د لیګل ایډ لپاره وړ یاست، او برعکس، ځکه چې کوم شیان چې تاسو د دې دوو شیانو لپاره وړ ګرځوي هغه توپیر ځله لري لري. پدې اړه له خپل وکیل څخه پوښتنه وکړئ.

## 4 سِول لیګل ایډ

### سِول لیګل ایډ به څه څه تر پوښښ لاندې راولي؟

که مشوره او مرسته ستاسو ستونزه حل نه کړي، او تاسو اړتیا لرئ چې خپله قضیه محکمې ته یوسئ، نو بیا تاسو ممکن د لیګل ایډ غوښتنه وکړئ.

ستاسو وکیل نشي کولی ستاسو استازیتوب په محکمه کې تر لیګل ایډ لاندې د ځینو قضیو لپاره وکړي، لکه:

- کوچنۍ ادعاوې چې تر £3,000 کمې وي، ترڅو چې په ادعا کې شخصي ټپي کیدل شامل نه وي.
- په بانکرپسي یعني افلاس پورې اړوند ځینې اقدامات.

خو بیا هم، دوی ممکن تاسو ته تر مشورې او مرستې لاندې پدې اړه مشوره درکړي.

### زه به څرنګه د لیګل ایډ وړ وګرځم؟

تاسو او ستاسو وکیل به ستاسو د قضیې او مالي وضعیت په اړه د غوښتنلیک فورمې ډکې کړئ او موږ ته به یې راواتسوئ. بیا به موږ ستاسو د غوښتنلیک ارزونه وکړو. د لیګل ایډ ورکولو لپاره، موږ باید دا پریکړه وکړو چې:

- تاسو مالي پلوه وړ یاست.
- تاسو د خپلې قضیې لپاره قانوني اساس لرئ (چې "غالب دلیل" بلل کیږي).

- دا معقوله ده چې د خپلې قضیې د ملاتړ لپاره عامه فنډونه وکاروئ - د مثال په توګه، دا ممکن معقوله نه وي چې لیګل ایډ درکول شي که چیرې هغه کس چې تاسو یې په وړاندې د دعوی کولو هڅه کوئ پیسې نلري، نو ستاسو قضیه به تر ارزښت ډیر لګښت ولري، دا ناممکنه ښکاري چې تاسو به بریالي شئ، تاسو غلط محکمه کاروئ، یا که تاسو د محکمې تر اقدام کولو مخکې د لانجې د حل کولو لپاره نورې لارې په بشپړ ډول په پام کې نه دي نیولې.
- تاسو له بل چا څخه مرسته نه وي - لکه ټریډ یونین، د انشورنس شرکت (ځینې قضیې ممکن د مثال په توګه، ستاسو کور یا موټر چې د انشورنس پالیسۍ لخوا پوښل کیږي) یا مسلکي اداره.

که تاسو واده کړی وي یا د ژوند ملګري سره ژوند کوئ، نو د سِول لیګل ایډ غوښتنه کولو لپاره ستاسو وکیل به د هغوی د عاید او سپما په اړه ورته معلوماتو ته اړتیا ولري، مګر هغه وخت نه که چیرې:

1. تاسو جلا شوي یاست.
2. دا پخپله هغه کس وي چې تاسو ورسره قانوني لانجه لرئ.

ځینې خلک د لیګل ایډ لپاره هیڅ نه تادیه کوي، نور بیا ممکن د دې لپاره یو څه تادیه کړي، او ځینې ممکن په مالي توګه هیڅ وړ نه بلل کیږي.
دا ستاسو او ستاسو د ملګري کلنۍ مصرف کیدونکي عاید او د مصرف کیدونکي پانګې (سپما او هغه ارزښتناک توکي چې تاسو یې لرئ) پورې اړه لري چې تاسو یې د خپلې قضیې په جریان کې لرئ. دا محدودیتونه هر کال بدلیږي. د وروستي ارقامو او مالي محاسبې لپاره www.slab.org.uk وګورئ.

## د مالي وړتیا په اړه زه باید کوم فورمې ډکې کړم؟

ستاسو وکیل به تاسو ته یوه فورمه درکړي چې د عاید په ډول (لکه مزد او بینفیټونه) پورې اړه لري چې تاسو (او که چیرې د تطبیق وړ وي ستاسو د ژوند

ملګرى) يې ترلاسه کوئ.

فورمه لارښوونې لري چې تاسو سره په بشپړولو کې مرسته وکړي. دا مهمه ده چې تاسو لارښوونې په دقت سره ولولئ او تعقيب يې کړئ. که تاسو دا کار ونکړئ، نو دا کېدلاى شي د ليګل ايډ ترلاسه کول وځنډوي يا پدې معنى چې موږ ستاسو غوښتنليک رد کړو.

## که زه اړتيا لرم چې زما کار په بيړنۍ توګه ترسره شي نو بيا؟

مخکې تر دې چې موږ پريکړه وکړو چې ايا موږ تاسو ته ليګل ايډ درکوو که نه، ستاسو وکيل ممکن وکولى شي په محکمه کې ستاسو په استازيتوب بيړني کار وکړي - د مثال په توګه، د يو چا د بريد مخنيوي لپاره د امر غوښتنه کول. په هرصورت، تاسو ممکن لاهم د دې کار لپاره موږ ته تاديه وکړئ.

## ايا زما په قضيه کې مخالف لورى به پوه شي چې ما د ليګل ايډ غوښتنه کړې ده؟

کله چې موږ ستاسو غوښتنليک ترلاسه کړو، قوانين له موږ غواړي چې ستاسو مخالف ته ووايو چې تاسو د ليګل ايډ غوښتنه کړې ده، مګر که:

1. ستاسو وکيل له موږ څخه وغواړي چې دا کار ونه کړو، او موږ موافق شو چې همداسې مناسب دى (د مثال په توګه، که تاسو د کورني تاوتريخوالي قرباني ياست يا ستاسو مخالف احتمال لري چې له خپلې شتمنۍ څان خلاص کړي که چيرې هغوى پوه شي چې تاسو د ليګل ايډ غوښتنه کړې ده)، يا
2. که د مخالف څاى ځايګى نامعلوم وي.

ستاسو وکيل به يو "قانوني بيان" بشپړ کړي. دا تشريح کوي چې ستاسو د ليګل ايډ غوښتنليک د څه لپاره دى. موږ به ستاسو مخالف ته د دې بيان يوه کاپي واستوو، ترڅو چې دا نامناسب نه وي، مګر موږ به ستاسو په اړه نور توضيحات ورنکړو.

مخالف حق لري چې موږ ته د قضيې يا نورو دليلونو په اړه معلومات راکړي چې ولې تاسو بايد ليګل ايډ ترلاسه نه کړئ. دې ته د استازيتوب کول ويل کيږي. موږ به ستاسو د مخالف استازيتوبونه په پام کې ونيسو او که اړتيا وي، نور تحقيق به وکړو. دا ممکن پدې معنی وي چې دا له موږ څخه ډېر وخت ونيسي چې ستاسو د غوښتنليک په اړه پريکړه وکړو.

موږ به معمولا ستاسو مخالف خبر کړو چې ايا موږ تاسو ته ليګل ايډ درکړی دی يا مو رد کړی دی.

ستاسو مخالف کولی شي ستاسو په قضيه کې هر وخت موږ ته ووايي که چيرې داسي کوم بدلون راغلی وي چې ممکن د ليګل ايډ په ورکولو اغيزه کوي. مګر موږ له تاسو څخه غوښتنه کوو چې د هغه څه په اړه نظر ورکړئ چې ستاسو مخالف موږ ته ويلي دي، که موږ ستاسو د ليګل ايډ بيرته اخيستلو په اړه فکر کوو.

## که زما ليګل ايډ رد کړل شي نو بيا به څه کيږي؟

موږ به تاسو او ستاسو وکيل ته خبر ورکړو چې ولې. د خپل وکيل له لارې، تاسو کولی شئ له موږ څخه وغواړئ چې پر خپلې پريکړې باندي بياکتنه وکړو. ستاسو وکيل به تاسو ته ووايي چې تاسو کومې لارې چارې لرئ. ستاسو وکيل ممکن ستاسو د قضيې په اړه د خپل شخصي فيس په اخيستلو سره چمتو شي (*10*مه برخه وګورئ).

## که زما ليګل ايډ رد کړل شي، نو ايا زه يې بيا غوښتنه کولای شم؟

هو. که ستاسو وضعيت بدل شوي وي يا تاسو د خپلې قضيې په اړه نوي معلومات چمتو کولی شئ، نو کېدلای شي موږ بلې پريکړې ته ورسيږو.

# *5* که زه د مشورې او مرستې يا د سِول ليګل ايډ وړ نه يم، نو څرنګه کولی شم رايګانه مشوره ترلاسه کړم؟

رایګانه مشوره له سټیزن اډوایس سکاټلنډ، مني اډوایس سنټرز یا شیلټر (چې د کور پر مسلو کار کوي) په خیر سازمانونو څخه ترلاسه کېدلای شي. د تماس جزیاتو لپاره د دې لیفلټ د مخ پوښ دننه وګورئ. تاسو ممکن دا هم ومومئ چې تاسو کولی شئ له خپل یونین یا انشورنس کمپنیانو له لارې مرسته ترلاسه کړئ.

# 6 زه باید څومره پیسې ورکړم؟

## آیا سِول لیګل ایډ رایګان دئ؟

قانوني مرسته تل مفته نه وي. دا ممکن مفته وي یا تاسو ممکن د لګښتونو لپاره یو څه تادیه وکړئ که:

- ستاسو عاید، سپما او نوره سرمایه (هغه ارزښتناک توکي چې تاسو يې لرئ) د یوې ټاکلې کچې څخه پورته وي. موږ دې ته ونډه وایو. تاسو ممکن د قضیې په پای کې یو څه یا ټول بیرته ترلاسه کړئ، که چیرې موږ د قضیې لګښت پوره کولو لپاره دې ټولو ته اړتیا نلرو.
- تاسو د خپل لیګل ایډ یا مشورې او مرستې په پایله کې یو څه (پیسې یا ملکیت) لرئ یا يې ترلاسه کوئ.
- تاسو قضیه بایلئ – نو تاسو ممکن د خپل مخالف لګښتونه ورکړئ. موږ به ستاسو د وکیل بل تادیه کړو. خو، موږ مسؤلیت لرو چې هڅه وکړو هغه پیسې بیرته ترلاسه کړو چې موږ لګولې وي.

د لګښتونو پوښلو په اړه د مشورې او مرستې لپاره، موږ به وکاروو:

- لومړی، هره هغه ونډه چې تاسو يې ورکوئ (لاندې د ونډو برخه وګورئ) – کوم چې ستاسو په عاید پورې اړه لري.
- دوهم، هر هغه لګښت چې ستاسو مخالف يې تادیه کوي.

- دریم، که چیرې لومړی دوه کافي نه وي، نو له هغو پیسو یا ملکیت یوه برخه یا ټول چې تاسو یې ګټئ یا یې لرئ (دا د کلا بیک یعني بېرته ګورت ته کولو په نوم پېژندل کیږي - د ګټل شوی یا ساتل شوی ملکیت او "کلا بیک" برخه وګورئ) مګر که تاسو وښایئ چې دا کار به تاسو ته جدي ستونزې یا تکلیف رامینځته کړي.
- څلورم، که چیرې لومړی درې کافي نه وي، نو موږ به عامه فنډونه وکاروو. که تاسو اړ یاست چې یو څه تادیه کړئ، نو تاسو خپل وکیل ته مستقیم د مشورې او مرستې لپاره پیسې ورکوئ. دوی کولی شي د مشورې او مرستې لاندې له ټاکل شوي مالي حد سره سم کار وکړي یا کولی شي زموږ اجازه وغواړي چې تر دې حدودو پورته لاړ شي.

د لیګل ایډ لخوا د لګښتونو پوښلو لپاره، موږ به وکاروو:

1. لومړی، هر هغه لګښت چې ستاسو مخالف یې تادیه کوي.
2. دوهم، هر هغه ونډه چې تاسو یې باید موږ ته تادیه کړئ.
3. دریم، که دا لومړني دوه کافي نه وي، د هغه پیسو یا ملکیت یوه برخه یا ټول چې تاسو یې ګټئ یا یې لرئ (د ګټلي یا درلودلي ملکیت او "کلا بیک" برخه وګورئ).
4. څلورم، که دا کافي نه وي، موږ به عامه فنډونه وکاروو.

ځینې وختونه، ستاسو مخالف ممکن ډیر وخت ونیسي چې لګښتونه تادیه کړي یا یې هیڅ تادیه نه کړي. او که ستاسو مخالف هم لیګل ایډ ترلاسه کوي، نو محکمه ممکن هغه څه راکم کړي چې دوی باید تادیه کړي. که مخالف پیسې تادیه نه کړي، یا هغه څه چې دوی یې تادیه کوي د هغه لیګل ایډ لګښت نه پوښي چې موږ تاسو ته درکړی وي، نو موږ به اړ شو چې هغه ونډې او ملکیت وکاروو چې تاسو یې ګټئ یا یې لرئ.

## که تاسو قضیه بایلئ

لیګل ایډ ستاسو د مخالف لګښتونه نه پوره کوي. نو، که تاسو خپله قضیه بایلئ، نو له تاسو څخه غوښتل کیدی شي چې د خپل مخالف ځینې یا ټول

لګښتونه ورکړئ. تاسو باید دا ډول لګښتونه پخپله ورکړئ - موږ یې نشو ورکولی.
لکه څنګه چې تاسو لیګل ایډ ترلاسه کوئ، تاسو کولی شئ له محکمې څخه وغواړئ چې هغه مقدار راکم کړي چې تاسو یې ورکوئ.

## ونډې

که تاسو اړ شئ چې ونډه تادیه کړئ، نو دا مبلغ به ستاسو د مصرف ور عاید، سپما او ملکیت پورې اړه ولري. موږ د غوښتنلیک له نیټې څخه عاید او سرمایه (سپما او هغه ارزښتناک توکي چې تاسو یې لرئ) اندازه کوو ترڅو چې ستاسو قضیه دوام لري.

د دې په اړه د نورو معلوماتو لپاره چې تاسو به څومره څله پیسې ورکړئ، او د قسطونو اندازه، مهرباني وکړئ زموږ ویب پاڼه www.slab.org.uk وګورئ یا زموږ له فاینانشل اسسمنټ یونټ سره تماس ونیسئ.

د مشورې او مرستې لپاره، ستاسو وکیل باید ستاسو د قضیې په پیل کې تاسو ته ووایي:

1. ایا تاسو ممکن د هغه پیسو څخه پیسې ورکړئ چې تاسو یې لرئ یا یې وګټئ.
2. څومره باید تادیه کړئ، که چېرې تادیه کوئ یې (تاسو به خپل وکیل ته د هرې مشورې او مرستې لپاره ونډې ورکړئ).

د لیګل ایډ لپاره، ستاسو وکیل باید وکولی شي تاسو ته ووایي چې ایا دا احتمال لري چې تاسو کوم څه تادیه کړئ، مګر دا پریکړه بیا موږ کوو چې ایا لیګل ایډ درکول شي که نه.

موږ به تاسو ته ووایو:

1. چې ستاسو ونډه به کټمټ څومره وي، که چېرته داسې وي (چې تاسو یې موږ ته تادیه کوئ).
2. تاسو څومره وخت لرلای شئ چې تادیه وکړئ.

تاسو به معمولا وکولی شئ خپله ونډه په منظمو قسطونو کې تادیه او د سټینډینګ آرډر له لارې یې تادیه کړئ. تاسو کولی شئ د تلیفون له لارې یا آنلاین زموږ د SLABPAY خدماتو په

کارولو سره یې هم تادیه وکړئ. عموما، موږ به تاسو ته ډیر وخت درکړو که تاسو ډیره تادیه کولو ته اړتیا لرئ.

که ستاسو ونډه ستاسو د پانګې (سپما او ارزښتناک توکي چې تاسو یې لرئ) پراساس وي، موږ به معمولا له تاسو څخه وغواړو چې دا په یوه ځل تادیه کړئ.

کله چې تاسو غوښتنلیک راکوئ، نو دا مهمه ده چې تاسو له خپل وکیل څخه وغواړئ چې ستاسو د قضیې احتمالي لګښت محاسبه کړي او موږ ته ووایی. دا ممکن ستاسو پیسې خوندي کړي، ځکه چې موږ په پیل کې کولی شو ستاسو ونډه تر هغه څه پوري محدوده کړو چې ستاسو وکیل یې اټکل کوي. ستاسو وکیل باید تاسو او موږ ته د قضیې په لګښت کې د هر ډول بدلونونو په اړه خبر وساتي څرنګه چې قضیه پرمختګ کوي.

که تاسو فکر کوئ چې موږ ستاسو ونډه په غلط ډول محاسبه کړې ده نو تاسو کولی شئ له موږ څخه وغواړئ چې بیا غور ورباندي وکړو.

مګر که د قضیې لګښت تر اټکل شوي هغه زیات شي، نو موږ به هغه توپیر معلوم کړو چې تاسو یې باید تادیه کړئ. که چیرې د قضیې لګښت ستاسو تر تایده کړې برخې کم شي، یا موږ ستاسو له مخالف څخه ځینې لګښتونه بیرته ترلاسه کړو، نو تاسو ممکن د خپلې ونډې یوه برخه بیرته ترلاسه کړئ.
تاسو باید د هر ډول پاتې قسطونو تادیه ورکړئ ان که ستاسو قضیه پای ته رسیدلي وي هم.

### *که زه په تادیه ورکولو کښې ستونزه ولرم نو بیا؟*

که تاسو د پیسو ورکولو کې ستونزه لرئ نو سملاسي موږ ته ووایاست، چې موږ هڅه وکړو له تاسو سره مرسته وکړو. که تاسو وښایئ چې ستاسو مالي حالت خراب شوی، نو موږ ممکن وکولی شو هغه اندازه راکمه کړو چې موږ یې له تاسو څخه غوارو.

***که زه خپله ونډه تادیه نه کړم، تادیات قضا کړم یا خپله اراده بدله کړم، نو بیا؟***

ستاسو لیګل ایډ به ودرول شي. دا پدې مانا ده چې ستاسو وکیل به ستاسو لپاره تر لیګل ایډ لاندې کارکول ودروي. ستاسو د قضیې لګښت پوښلو لپاره، تاسو به لاهم د خپلې پاتې ونډې، یا هغه مبلغ چې موږ ستاسو وکیل ته ورکړی دی، هر یو چې لږ وي، تادیه کړئ.

## هغه ملکیت چې تاسو یې لرئ یا یې ګټئ او "بېرته ګورت ته کول"

"ملکیت" د هر هغه څه معنی لري چې درلودل کیدی شي، لکه کور، بل ارزښتناک شی، یا پیسې.

که چیرې، د مشورې او مرستې، یا لیګل ایډ ترلاسه کولو په پایله کې، تاسو یو څه ملکیت ترلاسه کړئ چې تاسو یې مخکې نه درلود، نو دا به تاسو "ګټلی" یا "بیرته ترلاسه کړی" وي.

که تاسو یو څه ملکیت ولرئ چې یو چا هڅه کړې وه چې له تاسو څخه یې واخلي، نو تاسو به "ساتلی" یا "خوندی" کړې وي.

ځینې بېلګې یې دا دي:

1. کور.
2. ونډې.
3. لایف پالیسیانې.
4. هغه پیسې چې ستاسو میړه/مېرمنه یا پارټنر تاسو ته د سِول پارټنرشپ منحل کولو یا د طلاق په وخت کې درکوي.
5. د جرمي ټپونو د جبران ادارې لخوا شوې تادیه.
6. له کومه بله ځایه د خسارې تادیه.

تاسو ممکن د هغې یوه برخه یا ټول موږ ته راکړئ چې هغه څه پوښئ چې موږ ستاسو وکیل ته ورکړې دي. دا ځینې وختونه "کلا بیک" یعني بېرته ګورت ته کول بلل کیږي.

تاسو باید له خپل وکیل څخه وغواړئ چې:

1. د خپلې قضیې په پیل کې تاسو ته ووایي چې ایا "کلا بیک" بعنی بیرته اخیستل به تطبقیږي.
2. د هر هغه بدلون په اړه تاسو خبر وساتئ چې ستاسو په قضیه باندي اغیزه کولی شي.
3. تاسو ته ووایي چې تاسو باید څومره پیسې ورکړئ او د قضیې په جریان کې پدې کې د هر ډول بدلون په اړه تاسو ته خبر درکړي.

د مشورې او مرستې لپاره، موږ کولی شو دا خبره په پام کې ونیسو چې ایا د ګټل شوي یا ساتل شوي ملکیت څخه تادیه کول به تاسو ته جدي ستونزې یا کړاو رامینځته کړي.

که موږ اړ یو چې ستاسو وکیل ته پیسې ورکړو ځکه چې تاسو د هغه ملکیت څخه پیسې نه دي ورکړې چې تاسو د خپلې مشورې او مرستې په پایله کې ساتلي یا ګټلي دي، نو موږ حق لرو چې له تاسو څخه د پیسو بیرته ترلاسه کولو لپاره قانوني اقدام وکړو.
د لیګل ایډ لپاره، موږ جدي ستونزې یا کړاو په پام کې نه شو نیولای.

### *ایا تاسو به تل هغه پیسې یا ملکیت راځخه واخلئ چې زه یې ګټم یا یې لرم؟*

موږ به یوازې دومره پیسې درڅخه واخلو چې هغه کمښت پوره کړو چې ستاسو په قضیه کې د ورکړل شویو پیسو او:

- ستاسو مخالف لخوا ورکړل شوي لګښتونو ترمنځ وي.
- هر هغه مرسته چې تاسو ورکړې وي.

که ستاسو مخالف د لګښتونو په ورکولو کې ځنډ وکړي، نو موږ به د دې مبلغ د

پوره کولو لپاره کافي پیسې له ځانه سره وساتو. موږ به یې د سود عاید لرونکي اکاونټ کې واچوو او سود به یې تاسو ته درکړو.

***که چیرې یو څوک د خپلې قضیې د یوې برخې په توګه خپل کور وساتي یا یې وګټي، ایا دوی به اړوي چې د پاتې پیسو د ورکولو لپاره یې وپلوري؟***

نه. موږ به له تاسو څخه وغواړو چې موږ ته په قسطونو کې پیسې راکړئ. یا تاسو کولی شئ د کور تر پلورلو پورې پیسې وځنډوئ – کوم چې ممکن کلونه وروسته وي. که تاسو دا کار وکړئ، کله چې تاسو یې وپلورئ نو تاسو به د پاتې پیسو سود هم راکوئ. موږ به ستاسو د کور لپاره یو معیاري برمته واخلو چې دا ډاډ ترلاسه کړو چې موږ بالاخره پیسې ترلاسه کوو. ستاسو وکیل کولی شي تاسو ته ووایي چې پدې کې څه څه شامل دي.

## 7 زما مسؤلیتونه څه دي؟

لیګل ایډ په دولتي توګه تمویل کیږي، نو که تاسو غوښتنه کوئ یا یې ترلاسه کوئ، تاسو باید:

- موږ ته دقیق معلومات راکړئ.
- په خپلو شرایطو کې د هر ډول بدلون په اړه موږ خبر کړئ.
- په داسې توګه کار وکړئ چې پیسې ضایع نشي.

### زه باید خپل سِول لیګل ایډ قضیه څرنګه وچلوم؟

تاسو او ستاسو وکیل دا پریکړه کوئ چې قضیه څنګه پرمخ بوځئ. په یاد ولرئ چې هرکله تاسو د خپل وکیل سره د یوې پوښتنې لپاره تماس ونیسئ، او هرکله چې دوی ستاسو لپاره یو څه کوي (د لیکونو لیکلو، غونډو کولو یا تلیفون کولو په شمول)، نو ستاسو د قضیې لګښت لوړېدلای شي. او تاسو ممکن د دې لګښتونو ځینې یا ټول پیسې ورکړئ.

تاسو باید له خپل وکیل څخه وغواړئ چې اټکل وکړي چې ستاسو قضیه څومره لګښت لري او تاسو ته ووايي چې ایا دا اټکل به ستاسو د قضیې په جریان کې بدلون مومي. دا هغه کار دی چې یو شخصي تادیه کونکی به یې کوي، او تاسو هم باید دا کار وکړئ.

تاسو باید له خپل وکیل څخه ونه غواړئ چې ستاسو قضیه په داسې ډول اداره کړي چې ممکن غیر ضروري لګښت ورباندې راشي، د بیلګې په توګه، د روغې لپاره د معقول وړاندیز ردول، یا د خپلې قضیې اساس بیا بیا بدلول.

مهرباني وکړئ له خپل وکیل سره په تماس کې اوسئ، او د دوی یا زموږ لخوا د معلوماتو لپاره د هر ډول غوښتنو باندې سملاسي عمل کوئ.

## که زه تاسو ته د بدلونونه په اړه خبر در نه کړم، نو څه به کیږي؟

هغه معلومات چې تاسو یې د خپل مالي وضعیت په اړه راکوئ باید بشپړ او دقیق وي. که تاسو موږ ته غلط معلومات راکړئ نو:

1. موږ ممکن ستاسو لیګل ایډ ودروو.
2. تاسو ممکن د خپلې قضیې لپاره د ترلاسه شوي لیګل ایډ لګښت بیرته راکړئ.
3. ستاسو په وړاندې ممکن جرمي محاکمه ترسره شي.

## که زما شرایط د سِول لیګل ایډ مالي فورمه ډکولو یا ستاسو د لیګل ایډ له راکولو وروسته بدل شي نو څه به کیږي؟

تاسو باید موږ ته د هر هغه بدلون په اړه سملاسي خبر راکړئ کوم چې ستاسو پر قضیه اغیزه کولی شي

تاسو باید دا کار وکړئ که تاسو د لیګل ایډ لپاره غوښتنلیک ورکړې وي او لاهم د پریکړې په انتظار یاست، یا که موږ لالمخه تاسو ته لیګل ایډ درکړی وي.

دا بدلونونه کولی شي پر دې کار باندې اغیزه وکړي چې آیا تاسو مالي وړتیا لرئ او که نه، او هغه ونډه چې تاسو یې د قضیې لګښت ته ورکوئ زیاته یا کمه کړي، شرایطو ته په کتو سره.

تاسو باید موږ ته د خپل مېړه/مېرمنې یا پارټنر په شرایطو کې د هر ډول بدلون په اړه خبر راکړئ.

کله چې تاسو موږ سره تماس نیسئ، نو مهرباني وکړئ خپل ریفرنس نمبر ولرئ او په هر ډول پیغام کې یې راکړئ یا یې یادونه وکړئ.

تاسو او ستاسو وکیل باید موږ ته د هر هغه بدلون په اړه خبر راکړي چې کولی شي ستاسو د لیګل ایډ حق اغیزمن کړي. ستاسو وکیل باید په منظم ډول موږ ته راپور راکړي او تاسو ته باید د دې راپورونو یوه کاپي درکړي. که موږ په دې راپورونو کې د یو څه له امله د لیګل ایډ بیرته اخیستلو په اړه فکر وکړو، نو موږ به تاسو ته فرصت درکړو چې په دوی باندې خپله تبصره وکړئ.

## تر څومره وخت پورې باید زه تاسو ته د دې بدلونونو په اړه خبر درکوم؟

موږ درڅخه غواړو چې موږ ستاسو د غوښتنلیک ترلاسه کولو وروسته په 12 میاشتو کې ستاسو په عاید کې د هر مهم بدلون په اړه خبر شو، ان که ستاسو وکیل نور په قضیه کار نه کوي، یا قضیه پای ته رسیدلې وي.

که ستاسو کلنی عاید د یو کال په موده کې £500 شي یا تر دې زیات شي، یا £200 شي یا تر دې نور کم شي نو تاسو باید سملاسي موږ ته خبر راکړئ.

د 12 میاشتو له مودې وروسته ستاسو په عاید کې بدلونونه به ستاسو پر ټولټال تادیې اغیزه ونکړي، که څه هم موږ ممکن له تاسو څخه وغواړو چې دا په کمو (یا زیاتو) قسطونو کې راکړئ.

که ستاسو سرمایه ستاسو د قضیې په موده کې £500 شي یا تر دې زیاته شي نو تاسو باید موږ ته خبر راکړئ. د قضیې په موده کې په سرمایې کې بدلونونه کولی شي پر هر هغه ونډې اغیزه وکړي چې تاسو یې باید د خپلې قضیې د لګښت لپاره ورکړئ.

## د هغو توکو ځينې بېلګې چې موږ غوړو په اړه يې خبر شو:

1. ستاسو په ادرس، روزګار يا نورو شخصي جزياتو کې بدلونونه.
2. که تاسو د بېنفيټونو ترلاسه کول پيل کړئ، يا ترلاسه کول بند کړئ.
3. ستاسو په عايد کې بدلونونه، يا ستاسو په کار پوري اړوندو لګښتونو يا بېنفيټونو کې بدلونونه.
4. يو څوک چې ستاسو سره ژوند پيل کوي يا يې پای ته رسوي.
5. تاسو، يا تر 18 کالو پورته يو څوک چې له تاسو سره ژوند کوي، دنده ترلاسه کوي يا يې له لاسه ورکوي.
6. د کرايې، استوګنې، مارګېج، کونسل ټېکس، مراقبت، د ماشومانو پاملرنه، سفر يا شخصي تقاعد سکيمونو لپاره تاديات کې بدلونونه.
7. د ټولو هغو ځمکو او ودانيو ارزښت چې تاسو يا ستاسو پارټنر يې لرئ، پرته له هغه کور څخه چې تاسو پکې ژوند کوئ، په شمول د شريک وخت د سود.
8. د ريډنډنسي تاديات.
9. هغه پيسې چې د انشورنس پاليسيو په مقابل کې په پور اخيستل کيدی شي.
10. د غير لازمي شتمنيو ارزښت لکه کښتۍ، کاروان، دوهم موټر، زيورات (مګر د واده يا کوژدې ګوتې نه)، لرغوني توکي يا د پانګونې لپاره اخيستل شوي توکي.
11. هغه پيسې چې تاسو يا ستاسو پارټنر په پور ورکړې وي.
12. هر هغه څه چې تاسو يې ګټئ، يا درکول کيږي.
13. هر ډول سپما او پانګونې.

14. د لایف انشورنس یا نورو ورته پالیسیو څخه تادیات چې تر £500 ډېر ارزښت لري.

15. د یو چا له وصیت څخه پیسې یا ملکیت چې مړ شوی وي
16. له ټرسټ فنډ څخه پیسې.

17. هغه پیسې چې د بزنس شتمنیو په مقابل کې په پور اخیستل کیدی شي.

18. هغه پیسې چې تاسو یې له کومې بلې سرچینې څخه ترلاسه کوئ چې ستاسو د هغې پانګې اندازه چې تاسو د غوښتنلیک په وخت کې درلوده £500 کوي یا یې تر هغه زیاتوي.

19. بل داسې څه پیښیږي چې ستاسو پر مالي وضعیت باندې اغیزه کوي.

## که زه تاسو ته د بدلونونه په اړه ووایم نو څه به کیږي؟

لیګل ایډ به تر هغو نه درول کیږي کله چې موږ ستاسو د وړتیا بیا ارزونه کوو؛ ستاسو وکیل کولی شي ستاسو د قضیې ته دوام ورکړي. موږ فقط دومره اړتیا لرو چې ډاډ ترلاسه کړو تاسو د خپلې قضیې د لګښت لپاره سم مقدار ورکوئ.

# 8 ایا زه خپل وکیل بدلولای شم؟

هو، خو موږ باید ډاډه شو چې تاسو د دې لپاره ښه دلیل لرئ، او بل دا چې تاسو ته لاهم د لیګل ایډ ترلاسه کولو ته دوام ورکول مناسب دي. په ښو دلیلونو کې دا شامل دي:

- د هغه وکیل روغتیا خرابه شي یا مړ شي چې ستاسو لپاره کار کوي.
- تاسو د هغه سیمې څخه لرې ځئ چیرې چې ستاسو وکیل کار کوي، ادا ستاسو لپاره د بل وکیل سره لیدنه اسانه کوي.

که تاسو هسې خپل نظر بدل کړی وي چې څوک باید ستاسو لپاره کار وکړي، نو موږ به ستاسو د وکیل له بدلولو سره موافق نه یو.

## 9 ایا SLAB لیګل ایډ بېرته راڅخه اخیستلای شي؟

موږ ممکن پریکړه وکړو چې موږ باید ستاسو قانوني مرسته بیرته درڅخه واخلو – د بېلګې په توګه، که:

- ستاسو مالي شرایط بدل شي او تاسو نور وړ نه یاست.
- تاسو قضیه په غیر معقول ډول پرمخ وړئ.
- تاسو غلطه اعلامیه ورکړې وي.
- تاسو هغه ونډه نه ورکوئ چې موږ پریکړه کړې ده چې تاسو یې باید تادیه کړئ.

که داسي پیښ شي، نو موږ به تاسو ته فرصت درکړو چې موږ ته ووایاست چې تاسو ولې فکر کوئ چې موږ باید لیګل ایډ بیرته درڅخه وا وا نه خلو.

## 10 که د لیګل ایډ په جریان کې زما وکیل زما لپاره په شخصي توګه کار کولو یا له ما څخه د پیسو اخیستلو وړاندیز وکړي نو څه به وشي؟

ستاسو وکیل نشي کولی له تاسو څخه د هغه کار لپاره په شخصي توګه پیسې وغواړي چې تاسو یې لپاره لیګل ایډ ترلاسه کوئ. دوی دومره کولی شي له تاسو څخه د قضیې لپاره د هر هغه وخت لپاره پیسې وغواړي کله چې نه مشوره او مرسته او نه هم سِول لیګل ایډ شته وي.

که موږ تاسو ته لیګل ایډ درکړو، نو ستاسو وکیل ممکن د اضافي کار ترسره کولو لپاره زموږ موافقه ترلاسه کړي (لکه د متخصصینو یا بارسټرانو یعني مدافع وکیلانو ګمارل). که موږ موافق نه یو چې ستاسو وکیل کولی شي اضافي کار وکړي یا ډیرې پیسې مصرف کړي، نو بیا دوی نشي کولی له تاسو څخه وغواړي چې د دې لپاره جلا پیسې ورکړئ کله چې ستاسو د قضیې لپاره مشوره او مرسته، یا لیګل ایډ دوام لري.

که موږ تاسو ته لیګل ایډ رد کړو، یا ستاسو لیګل ایډ یا مشوره او مرسته ودریږي، نو ستاسو وکیل ممکن ستاسو لپاره په شخصي توګه کار کولو وړاندیز وکړي. که داسي پیښ شي نو:

- له دوی څخه وغواړئ چې د دې لپاره خپل دلیلونه په بشپړ ډول تشریح کړي.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د دوی د بزنس په شرایطو پوهیږئ او موافق یاست مخکې لدې چې دوی ستاسو لپاره کار پیل کړي.

### تاسو چې زما وکیل ته څومره تادیه کوئ ایا په هغه کښې زه څه ویلای شم؟

هغه څه چې موږ وکیلانو ته ورکوو د قانون له مخې ټاکل کیږي، او موږ د دوی بیلونه ګورو چې ډاډ ترلاسه کړو چې ترسره شوی کار او لګښت مناسب دي.

## 11 زه له سکاټش لیګل ایډ بورډ څخه څه تمه کولی شم؟

زموږ موخه دا ده چې خپلو ټولو مراجعینو ته د لوړې کچې خدمت وړاندې کړو. زموږ ژمنه له تاسو سره دا ده چې موږ به د لیګل ایډ غوښتنلیکونو او حسابونو پورې اړوند ټولو مسلو سره په وخت، دقیق او عادلانه ډول معامله وکړو.

موږ به تل له تاسو سره په درناوي چلند وکړو او ستاسو د محرمیت حق ته به درناوی کوو.

که موږ له تاسو یا ستاسو وکیل څخه وغواړو چې موږ ته اضافي معلومات یا اسناد راولیږئ نو دا مهمه ده چې تاسو ژر تر ژره دا کار وکړئ. زموږ د خدماتو معیارونو کې د غوښتنلیکونو په اړه د پریکړو کولو لپاره مهالویش شامل دي. په دغه مهالویش کې هغه وخت شامل نه دی چې موږ باید ستاسو یا ستاسو وکیل څخه د اسنادو یا معلوماتو ترلاسه کولو لپاره انتظار وکړو.

زموږ د خدمت معیارونو لپاره وګورئ زموږ
- https://www.slab.org.uk/about-us/what-we-do/ corporate-plans/index.html.

## زه چې کوم معلومات تاسو ته درکوم تاسو به هغه څرنګه کاروئ؟

مهرباني وکړئ زموږ د محرمیت اعلانیې ته مراجعه
وکړئ کومه چې موندل کېدلای شي زموږ په ویب پاڼه
کې -
- https://www.slab.org.uk/ about-us/access-to-information/ SLAB_privacy_policy.html

د معلوماتو د ساتنې قانون او د معلوماتو د آزادۍ قانون (سکاټلینډ) 2002 لاندې معلوماتو ته ستاسو د حقونو په اړه اضافي معلومات زموږ په معلوماتي پاڼې "معلوماتو ته لاسرسی" کې شته او زموږ په ویب پاڼه کې هم شته - https://www.slab.org.uk/export/sites/default/common/documents/publications/leaflets/Access_to_Information_booklet.pdf

# 12 زه له خپل وکیل څخه څه تمه کولای شم

ستاسو وکیل باید:

- تاسو ته تشریح کړي چې لیګل ایډ ستاسو لپاره څه معنی لري، پشمول د هغه څه چې کېدلای شي تاسو د خپلې قضیې لپاره پیسې ورکړئ.
- ستاسو پر قضیه باندې خورا په مؤثره او اغیزمنه توګه کار وکړي
- تاسو اګاه کړي د لیګل ایډ په اړه او دا چې ستاسو د غوښتنلیک او ستاسو د قضیې سره د څه پېښیږي.
- که ستاسو غوښتنلیک ناکام شي نو تاسو ته د لیګل ایډ نه ترلاسه کولو دلیلونه تشریح کړي.

ستاسو لیګل ایډ ستاسو په قضیه کې ټول لګښتونه پوښي، ترڅو چې لیګل ایډ وي، په شمول د متخصصینو یا مدافع وکیلانو لګښت چې موږ ورسره موافقه کړې ده. ستاسو وکیل باید له تاسو څخه د قضیې لپاره د هیڅ شي غوښتنه ونه کړي، پرته له دې چې د مشورې او مرستې لپاره کومه ونډه ارزول شوې وي. البته، تاسو ممکن موږ ته هغه پیسې راکړئ چې په 6 برخه

کې يې يادونه شوې ده.

## که زه ستاسو يا د خپل وکيل له چلند څخه ناخوښه يم نو بيا؟

زموږ د معلوماتو پاڼه د شکايتونو لپاره د مراجعينو لارښود زموږ د شکايتونو طرزالعمل او د نورو اشخاصو يا سازمانونو په اړه چا ته شکايت کولو په اړه تشريح کوي. مهرباني وکړئ زموږ په ويب پاڼه کې د شکايتونو برخه وګورئ-

https://www.slab.org.uk/about-us/ complaints/

## زه په دغه ليفلټ څه وکړم؟

دغه ليفلټ په خوندي ځای کې وساتئ چې وروسته کار ورڅخه واخلئ.

- د غوښتنليک فورمو ډکولو مخکې دغه ليفلټ په دقت سره ولولئ.
- له خپل وکيل سره د هغه څه په اړه خبرې اترې وکړئ چې تاسو د خپلې مالي ورتيا يا هغو مالي فورمو په اړه نه پوهيږئ چې تاسو يې ډکولو ته اړتيا لرئ.
- له خپل وکيل سره د هغه څه په اړه خبرې اترې وکړئ چې تاسو د خپلې قضيې په اړه نه پوهيږئ، چې څومره ژر امکان ولري. ښه به دا وي چې دغه کار مخکې لدې وکړئ چې تاسو له دوی څخه وغواړئ چې ستاسو لپاره تر ليګل ايډ لاندې کوم کار وکړي. مخکې لدې چې تاسو د کومې ونډې لومړی قسط ورکړئ، دا مهمه ده چې تاسو پوه شئ چې تاسو بايد څومره تاديه وکړئ.
- کله چې تاسو له موږ سره تماس نيسئ نو خپل ريفرنس نمبر په لاس کې لرئ او په هر ليک کې يې حواله راکوئ.